مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

آصف بهاند

۲۰۲۶/۰۵/۰۹

# لنډۍ، د ثبتولو ستونزه

## ۳۷۸مه برخه

بې له تا داسې یم لالیه
لکه ماهی چې بې‌اوبو ژوند تېروینه

یوبې‌غیرته به مېړه کم
له غیرتمنو نه څوځلې پاتې‌شومه

د زړه په هردرد دې پوهېږم
نور راته مه‌وایه د سوې‌زړه حالونه

د لنډیو په دې برخه کې دا لاندې لنډۍ ستاسو دران حضور ته وړاندې کېږي:

چې تورماښام شي، غم دې راشي
لکه مرغۍ چې ماښام شنوونو ته ځینه

چېرته د یارځواني نازکه
چېرته د ګور په توروخاورو کې خوبونه

چې سرۍ هرڅومره پښتون‌شي
زړه چې مېړن شي، پښتو توله ورنه ځینه

چې درنه بل وطن ته لاړشم
ارمان زما د پاکې مینې به درځینه

جانان ریښتیا مرور نه دی
مرور ګرځي د ځان قدر زیاتوینه

خندا مې نه‌ده زده عالمه
خو د ژړاچل راله سلرنګه راځینه

څه‌عجیبه وختونه تېر شول
په نیمه‌شپه به د جانان دیدن ته تلمه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

ځنګه نرۍخندا دې کړه
ځنګه په ډکـزړه مې دروژړل مێنـه

پرځان مې تورڅادر راخپور کړ
د بېلـتـانـه تـبـې دې بـيـا نـيـولـىيـمـه

په ليونو سپيو کې ګيريم
جانان په غتو ـ غتو ګوري، ماترې خورينه

په نيمه شپه مې ترينه خبرکړۍ
بېننګه يار چې خوبولى پاتېشينه

په تمه، تمه مې ژوند بايلود
سپيرەقسمته پراوړو دې ګرځومه

په خوله خاموشي کليوالي
لړ راتپه شه، چې مې تندەماتەشينه

په چاړه غوښې رانه پرې کړۍ
مـا د جـانـان لـــه دره مـەشـړۍ مـيـنـه

په پيونديشال مې درېټکړه
سړنىکال مې د خوارۍ دى، تېربەشينه

په شيشمحل کې مې زړه تنګ دى
ما ته د يار جونـګړه وښايه چې ځمه

پرما دې اور خيردى بليـږي
زما جانان ته دې لوګى هم نەورځينه

بې له تا داسي يم لاليه
لکه ماهى چې بېاوبو ژوند تېروينه

وطن د پېغلو مبارکـشه
ځوانان د بلوطن ماراغان دي لاړ به شينه

وړوکى نه يې چې دې پوەکړم
له موره يويې، چېرته مەوړەمجلسونه

وړکيه غريب يې، که مێن يې
تورېجامې دې هميشه په غاړه وينه

واوره وريـږي، وطن سپين دى
سـپـيـنـەلالـيـه تـــا بـــه چـېـرتـــه لـتـومـه

ورکه، بيخي درپسي ورکـيم
ځان سره ناست يمه او خپلځانلتومه

---


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولـئ

**وروستي ديدن ته به رانهشي**
**ما ته مالوم دي د دې خلکو رواجونه**

**ولې مې سترګو کې تاويږي**
**ولې مې زړه درپسې دومره دردکوينه**

**ورکه لاليه غږ دې ورکشو**
**غم د لېوه شو، بند په بند مې ماتهوينه**

**د ببلتانه اول مابنام دی**
**د دردګولۍ ورته په لپو، لپو خورمه**

**د جنازېکټ به مې درونډ وي**
**ډېرارمانونو سره تورلحد ته ځمه**

**د زړه په هردرد دې پوهېږم**
**نور راته مهوايه د سوېزړه حالونه**

**د وفا نښې درکې نهشته**
**ما درته کښته پورته ډېر کتلېدينه**

**د مينې ځای خو په کې نه و**
**د جانان زړه مې ګوټ په ګوټ ولټاونه**

**د ګاونډيانو لاټين غواړم**
**په توپاني سيلۍ کې يار پسې وزمه**

**د زړه په زور مې خندا وکړه**
**يار مې غلطکړ، ترينه پټ مې کړل غمونه**

**د ياراني مې ورته وويل**
**جينۍ تر کوره پورې ځې دوعاکوينه**

**د نيمې شپې راتله دې ورکشه**
**زه ترسهاره پورې ويښه ناستهيمه**

**دا ڼنګه سپينېجامې ګرځې**
**پر زړه دې نهشته د يارۍ سوي داغونه**

**د غرونو خلک پاک سپېڅلي**
**نه دروغجن دي، نه لوزونه ماتوينه**

**د لالېکور راته دوزخ شو**
**په ما يې بله بنه وکړه، غرقهشومه**

**د شينکميسې جلۍ وروره**
**اوښی مې نه يې چې په شا دې ګرځومه**


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

**د سترګو جنګ دی ورته ټینګ شه**
**کاږه‌واږه بانه په زړه ویشتل کوینه**

**د ښکلومینه خړسیلاو دی**
**که څوک پرېځان لاهو کوي، مئېن دې شینه**

**دا ستا ارمان دې خدای پوره کړي**
**خیر که نیمګړي سول زما ټول ارمانونه**

**که مې په وس کې وای جانانه**
**لکه سپوږمۍ به دې پرکلي ګرځېدمه**

**کلي کې سخته‌خاموشي ده**
**لالی مې مړ دی، خلک ما نه‌خبروینه**

**که مې نصیب د بدو نه‌وای**
**پرسپین میدان به لالي ولې پرېښودمه**

**که سوله وشوه، یار به راشي**
**که سوله نه‌وه، هدیرې به لټومه**

**کلي کې ټول خلک شکمن دي**
**ډېر په احتیاط سره راځه، مړ به دې کړینه**

**مخ ته مې مه‌ګوره، کافرشوې**
**زه مسافر جانان په خدای سپارلې یمه**

**مازدیګر تېرشو، ته رانغلې**
**تپه‌تیاره شوه، بېدینه کور ته ځمه**

**مسافري بېشکه مرګ دی**
**زه چې راتلم، ځان مې په مړ شمېرلیٰ‌ونه**

**مورې بلۍ پر بلۍ ګرځي**
**د میمونې ټیکری به چا موندلی وینه**

**ما ته په سترګو کې ځای راکه**
**زه درله ځای د زړه په کور کې درکومه**

**مازدیګری دی غاړه‌راکړه**
**سبا به بلوطن ته ځم، کلی پرېږدمه**

**مړه به مې کړي دربه مې نه‌کړي**
**نن خپلې مور راته صفا ویلې‌دینه**

**روژه په خوله ورته ولاړیم**
**که بېوفاجانان مې واخلي سلامونه**


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

زړه دې زما په رقم تنګ شه
چې نه صبرېږي، نه نارې درته کوینه

زما په یار پسې رنګ زېړدی
طبیبان هسې خپل دارو خاورې کوینه

زما او ستا دومره یاري وه
لکه د لوی‌سفر واړه، واړه مونځونه

زما دې ژبه خدای کړيوچه
چې بې له تا به زه د بل صفت‌کومه

زما اشنا ته داسې وایه
بلا دې واخلم، په دیدن پسې دې مرمه

زنګ راته‌وکړه، حال مې واخله
رنګ مې زېړېږي، د مرګي‌ورځې مې دینه

زاړه‌خوندونه راپه‌یاد که
کلي ته راشه د لوونو ورځې‌دینه

زړه ته مې ګوره ته یې خوښ‌کړې
نصیب ته ګوره، تا نه لرې مې ساتینه

ستا له دیدن نه مې توبه ده
د صبرېدو نفلونه هره‌شپه کومه

ستا به ځویمه یارانه وي
زما اوله یارانه ده، زړه مې چوینه

شوندې مې درېځایه وتلې
د زړه‌زخمونه مې اوس مخ بدرنګوینه

ښه ده چې تا لرمه خدایه
زړه ته نېږدې خلکو یوازې پرېښودمه

ښه ده چې ستا له لوري پرېشوه
د ښنګړ بار وې، په یارۍ دې شرمېدمه

یا خو جانان په زړه کافر دی
یا د ملا تعویز کې نه شته‌دي زورونه

یوه دې وه، بله دې وکړه
مه دې زړه ښه‌شه، مه دې وشه اولادونه

یوبې‌غیرته به میره کم
له غیرتمنو نه ځوځلې پاتې‌شومه


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**له رنګينو ډکه‌ماښامه**
**دا رنګيني به دې ټول‌عمر يادومه**

**له خپل نصيبه ګيله‌من يم**
**کله مې خان‌کړي، کله غواړمه خيرونه**

**فرضي‌روژه ده کرار کښېنه**
**چې اختر راشي، بيا دې هريوه منمه**

**ته رانه بلوطن ته لاړې**
**ستا تربوران راباندې ډېرکوي ظلمونه**

**هرکله راشې د يارغمه**
**که سل مې نور وي، تا به پاس پر تندي وږمه**

**بس جنازه مې شوه‌تياره**
**ونيسه‌لاره، که وروستي کړې ديدنونه**

**عزرائيل هسې ځان بدنام کړ**
**زه د جانان سترګو پخوا وژلې ومه**

**غاښ مې وتلي، سرمې سپين دی**
**خلک دا وايي چې د ډېر عمر به وينه**

**اخر به ما په چا حلال کړې**
**په شاړو کندو کې د شپې مزل کومه**

نوربيا

د ليکوال نورې ليکنې په لاندې لينک کې لوستلای شئ:

**http://afghan-german.com/tahLiLha/EditAutor.aspx?95**



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ